# ما
# چنگوبه
# وموندل



AGHALIBRARAY.COM

# ما چنګوښه ومونډل

لیکوال البرټ

مترجم سلیمان شاه سلطاني


---

دا کتاب له ۴ کلنۍ څخه تر ۹ کلنۍ پورې کوچنیانو ته وواياست

---

کتاب ما چنګوښه ومونډل
لیکوال البرټ
مترجم سلیمان شاه سلطاني
د کمپیوټر او ویب سایټ چارې روح الله لمر
ډیزاین محیب الله رسولي
خپرندوی سیدګران آغا کتابتون
www.aghalibrary.com

اوس نو دادئ زه سپین ږری سوی یم خپل لمسیان لا لرم.
دا ژوند داسي د سترګو په رپ کي راباندي تیر سو چي بیخي حیران یم. کله کله پخپله خونه کي یوازي کښېنم او د کوچنیوالي خاطرې راپیاد کم زه چي وایم دا هر څه پرون سوي دي. زما تر اوسه پیاد دي کله چي زه کوچنی وم یوه ورځ د مکتب څخه کور ته راغلم چي زما په خونه کي چنګوښه پیدا کړم.


www.aghalibrary.com



AGHA LIBRARAY.COM

کله چي زه خپلي خوني ته ولاړم که ګورم زما د خوب پر بستر یوه چنګوښه ناسته ده. ما چي ورته وکتل دستي مي د خولې څخه چیغه راووتل ، مور مي دستي خوني تـه راننوتل مور دواړو ته یې وکتل او مُسکا یې وکړه نور څه یې نه وویـل. داسي معلومېدل مور مي خبره وه چـي دلته چنګوښـه راغلې ده خو ماتـه یې پدې خاطر څه نه وویل چي دې غوښـتل زه پر دغه کیسه خوند واخلم.

زه خوشـحاله یم چي مور مي ددغه کیسـې څخه یو پټ راز جوړ کړي


www.aghalibrary.com



AGHALIBRARAY.COM

د شپږو کلو وم د مکتب رخصتۍ مي شروع وې يوه ورځ
د کور دباندي راووتم. د کور شاته مو دستي يو کوچنی رود وو.
هلته د رود پر غاړه کښېنستم. که ګورم هلته مي کوچني ماهيان
وليدل چي تور رنګ لري په اوبو کي ساتېرى کوي. کرار بيرته د کور
پر لور روان سوم پرلاره مي فکر کوي چي زه خو په کور کي هيڅ
ډول حيوانات نلرم چي ساتېرى ورسره وکم.
خير نو هغه وو چي پدغه فکرو کي ډوب وم چي کور ته راورسېدم.
مور ته مي وويل دلته په کور کي موږ هيڅ يو حيوان نلرو چي زه
ساتېرى ورسره وکم، زه دلته حيوانات راولم چي بيا ساتېرى ورسره وکم؟




www.aghalibrary.com



AGHA LIBRARAY.COM

ما خپلي مور ته د ماهیانو کیسه وکړه او ورته ومي ویل چي نن ورځ مي څو دانې ماهیان ونیول. خو زما سره د ماهیانو د ساتلو هیڅ شی نه وو نو بیرته مي په هغه رود کي خوشي کړل. مور مي ددغه خبري په اورېدلو قناعت راسره وکړي.






AGHA LIBRARAY.COM

زه ډېر خوشحاله یم پدې خاطر چې زما مور ماته د ماهیانو د نیولو اجازه راکړه. سهار مې مور د هنداري څخه جوړه یوه مرتبانه راکړل راته وئې ویل ول ورسره ماهیان ونیسه او پدغه مرتباني کې یې خوندي که. تر هغه وخته چې ته بیرته کور ته راځې زه به د کور کارونه خلاص کم.

زه هم په خوشحالۍ سره د رود پر خوا روان سوم.

www.aghalibrary.com





AGHA LIBRARAY.COM

په رود کي نو دونـدي ډير ماهيان وه چي مکوه خبري
مـا هم څو دانـې ژر ژر ونيول او مرتباني ته مي ور واچول.
بس نو دوې پښــې مي دغه وې دوې مي نوري کړې او چابک د خپل
کور پر خوا مي وځغسـتل




www.aghalibrary.com



AGHA LIBRARAY.COM

زه په ډېرې خوشحالۍ تر کوره راورسېدم . کله چې کورته داخل سوم که ګورم مور مې ولاړه ده او د ماهیانو د ساتلو یوه غټه مرتبانه یې هم پیدا کړې وه او پر مېز یې ایښې وه. ماته رانیزدې سوه پوښتنه یې راځخه وکړه څنګه سو ماهیان دې ونیول؟
هغې چې وکتل ما په مرتبانه کې څو دانې ماهیان ورته راوړي وه نو خوښ سوه په خندا خندا یې راته وویل ول تا خو ډېر ښه کار وکړي.
اوس نو ته ګوره چې زه څنګه جادو کوم او تا به څنګه حیران کم؟!


www.aghalibrary.com





AGHA LIBRARAY.COM

ما پوښتنه ځيني وکړه څنګه مي حيرانوې؟
هغې جواب راکړئ چي زه بايد انتظار وکم او ماهيانو ته په دقت سره ګورم چي څه پيښيږي. ما هم ورته وويل چي سمده زه به انتظار سم او ګورم به چي څه پيښيږي.



www.aghalibrary.com



AGHA LIBRARAY.COM

یو څو اوونۍ وروسته که گورم ماهیان بل ډول راته ښکاره سوه.
ما مور ته په زوره ور بږغ کړل چي هله ژر راسه زما ماهیانو پښې پیدا کړیدي. هغه زما خوني ته راغله ماهیانو ته چي یې وکتل په خندا سوه او ماته ئې وویل چي ته مازي ورته گوره چي نور لا څه پیښیږي.

www.aghalibrary.com






AGHA LIBRARAY.COM

د هغې ورځې څخه څو اوونۍ نوري تیري سوې.
دا ځل بیا مي ماهیان بیخي په بل رقم سوي وه، بیا مي په خوشحالۍ سره مور ته وربږغ کړئ چي ژر راسه ماهیانو اوس دوه لاسونه هم پیدا کړي دي او لکۍ يې مخ پر ورکېدو ده.
هغه زما خوني ته په ځغستا راغله، ماهیانو ته چي يې وکتل په خندا سوه ماته يې مخ راواړوئ راته ويې ويل ته لا ورته ګوره چي څه پیښیږي!

www.aghalibrary.com






AGHA LIBRARAY.COM

بیا که گورم د سترګو په رپ کي دوې اوونۍ نوري تیري سوې.
کله چي سهار د خوبه را کښېنستم ماهیانو ته مي وکتل هغه بیخي په بل شکل سوي وه. هغوي لکۍ بیخي لرل نه، پښې یې غټې سوي وې زه حیران سوم چي دا هغه کوچنــي تور ماهیان دي چي ما په ردو کي نیولي وه؟ اوس خو بیخي بل رقم سوي دي.

www.aghalibrary.com



بیا مي مور ته ږغ کړه چي ته راسه دا ماهیان وګوره دا خو اوس بیخي بل رقم سویدي مور مي راغله ماهیانو ته چي یې وکتل په خندا سوه ماته یې وویل ماتاته په اوله ورځ وویل چي زه به تا په څو اوونیو کي حیران کم ځنګه سو حیران سوې؟



AGHA LIBRARAY.COM

اوس نو په ټوله کیسه پوهه سوم، هغه ورځ وه کله چي زه د مکتب څخه راغلم زما پر بستر چنګوښه ناسته وه.
مور مي په هر څه خبره وه خو زه یې نه خبرولم چي ما د ماهي د چیچانو پر ځای د چنګوښي چیچان کور ته راوړي وه.

www.aghalibrary.com






AGHA LIBRARAY.COM

مور مي په لوړ بږغ راته وويل حیران سوې؟؟
تا د خپلو سترگو په مخ کي جادو ولیدئ. د ماهیانو څخه غټي چنگوښي جوړي سوې. زه پوهه سوم چي مور مي دا لوبه راسره وکړه چي زما ساټ راتیر کړي.

www.aghalibrary.com



اوس نو مور راته وائي چي هله ژر ولاړ سه او دوي ټول په رود کي د چنگوښو سره ایله که



AGHA LIBRARAY.COM

اوس نو زه راغلم رود ته د کور څخه مي ټولي چنګوښـي راوړې او دلتـه مي په رود کي خوشي کړې هغوئ په خوشـحالۍ سره لوبي شروع کړې.






AGHA LIBRARAY.COM

پا ی

# سید ګران آغا کتابتون

د سید ګران آغا (انلاین) کتابتون دا ویاړ لري چي د نړۍ په ګوټ ګوټ کي زرګونو پښتنو، افغانانو ته په وړیا شکل یې زرګونه کتابونه ډالۍ کړي.
نن سبا که وګورو دننه په افغانستان کي ډیر داسي خلک سته چي له کتاب سره زیاته مینه لري خو په اقتصادي بڼه د رانیولو توانائي یې نه لري او څوک چي له افغانستان څخه دباندي اوسیږي هغوي په فزیکي شکل کتاب نسي تر لاسه کولای نو ځکه موږ دا کتابتون چي زموږ د خدای بخښلي بابا
(سید ګران آغا) په نوم دی، جوړ کړئ. چي ټول خدمات یې په وړیا شکل دي.
پدې کتابتون کي دیني، طبي، ټولنیز، اروا پوهنه، تعلیمي، ساینس او ټکنالوجي، زرعت، انجینري او د نورو بیلابیلو برخو سلګونه او زرګونه کتابونه وجود لري. چي الحمدالله اوس مهال توانیدلی چي هره ورځ د هیواد دننه او دباندي سلګونه او زرګونه کتابونه ځیني کښته کیږي او لوستونکي یې لولي.
تاسي کولای سئ چي له لاندنی انټرنیټي پتې څخه زرګونه کتابونه په وړیا شکل کښته کړي.
**www.aghalibrary.com**
د لوئ الله ﷻ له دربار څخه زموږ بابا ته فردوس جنت غواړو.
په درنښت

د سید ګران آغا کتابتون اداره

## د روښانه افغانستان په تمه

مطالعه د انسان په ژوند کي د مثبت بدلون ضمانت کوي او تل مطالعه کوونکي ته د انساني نړۍ د تېرو کړنو او لاسته راوړنو نمایندګي په غاړه لري. کتاب او مطالعه د انسان لپاره سالم مصروفیت بلل کیږي، او له ډیرو بېځایه کړنو څخه یې په امن کي ساتي.

له دنیوي ګټو سره سره اخیروي ګټې هم لري، لکه خپل علم او د معلوماتو ذخیره تر نورو رسول او هغوی ته سالمه روزنه ورکول او د اسلام لاري ته سوق کول.

څنګه کولای سو د مطالعې او کتاب کلتور ژوندی وساتو؟

کوچنیانو ته د کتاب لوستلو ځیني ګټې:

کوچنیان به په ښه توګه خپله مورنۍ ژبه زده کړي

د دوي فکر به هر اړخیز وي. په خبرو به په ښه شکل پوهېدلای سي.

فکري تمرکز یې پراختیا مومي. دوي به مسلکي چلند کوي.

خپل الله ج او رسول ص به پېژني. د ښه او بد تر منځ به توپیر کولای سي.

فکري او دماغي توازون ډیر ښه ساتي.

د خپل ژوند په ارزښت به پوهه سي

روحي او فزیکي صحت به ولري.



